مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا
۲۰۲۳/۰۹/۰۲

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
## پینځم توک
دوه سوه او څلورشپیتمه پرله پسي برخه

## کندهار

ایدیت:
ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

### د مقالي پیل:

(د پښتنو په فوکلوری نکلونو کی د فتح خان بړېځي نکل
فتح خان بړېځی – یوه له هغو کیسو څخه ده چې ډېرو زیاتو تاریخي او اجتماعي پېښو ته اشاره پکښې سوې ده . په کلابست کی د بړېځانو پاچهي، په هندوستان کی د مغول شمس الدین پاچهي، د مغولو او پښتنو ترمنځ جنګونه او دهغوی ترمنځ زړه د ښمني د دغه نکل تاریخی اړخونه دي اوښایی د دغو حوادثو ذکرېدلو دې نکل ته داسی بڼه ورکړې وي چې ډېر زیات خلک هغه ته دفوکلوری نکل په سترګه نه بلکه د یوه تاریخی حقیقت په سترګه ګوری.
فتح خان بړېځی د بست د پاچا اسلم خان نازولی زوی دی چې د خپل پلار سره پر ډېره عادی خبره خوابدی کېږی او دخپلو ورسره نهه پنځوسو بړېځو یارانو او خپلی معشوقي رابیا سره د هند پر لور خوځېږی. د فتح خان ماجراغوښتونکی ملګری ، کرم خان یا د نکل په اصطلاح کرمی، په هندوستان کی داسی کارونه کوی چې په لوی لاس د هغه ځای مغول پاچا شمس الدین د ځان سره مخالف کوی او دجنګ میدان ته یې راباسی. بالاخره د فتح خان بړېځی ټول یاران او دی پخپله د مغول پاچا د لښکرو سره په جنګونو کی وژل کېږی او دا تراژیک نکل پای ته رسېږی.
که څه هم چې په نکل کی د بست د ښار په باب تقریبا هیڅ نه ویل کېږی خو دونه راته وایی چې د نکل د قهرمان، فتح خان بړېځي، پلار اسلم خان په دغه ښار کی پاچهي کړې ده. البته دنکل څخه ښکاری چې هغه وخت چې اسلم خان په دې ښار کی پاچا وو، په هند کی مغولو حکومت کاوه او قدرت د شمس الدین مغول په لاس کی وو.
په داسی حال کی چې لومړی خود بست په تاریخ کی نه بړېځانو پاچهي کړې او نه د اسلم خان په نوم پاچا تېر سویدی. اوکه یې چېری داسی فرض کړو چې د پاچا څخه به یې مطلب یولوی خان وي، نو بیا په هغه وخت کی چې هند د مغولانو په لاس کی وو، بست پخپله یاد ډهلي اویا د ایران د صفوی امپراطوری په لاس کی وو، او په هغه ښار کی دونه قوي خان موجو دنه وو چې د هغه زوی دي د خپلو ملګرو سره د هند د امپراطوری په جنګ ورسی.
د بلی خوا، د هند د مغولي امپراطوری په تاریخ کی د شمس الدین په نوم پاچا تېر سوی نه دی چې هغه دي د هندوستان په قلمرو کی، چی په نکل کی ټاکلي ځای ته چنداني اشاره نه کېږی، د پښتنو په جنګ ورغلی وي، او په فوکلور کی دي د هغه نوم پاته سوی وي. د هند د مغولو په تاریخ کی د بابر څخه نیولي د اورنګزیب تر زماني پوري درې شمس الدین نومي سپه سالاران تېر سوي دي، او په هغوی کی یوه هم د پښتنو په دغو سیموکی ، چې باید دفتح خان او مغولو ترمنځ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

جنگونه پکښې سوي وي، داسې عملیات نه دي کړي چې پښتني فکلور دي هغوی د مغولو د ظالمو پاچاهانو په نوم ثبت کړي.
مرحوم عطایې صاحب په دې عقیده دی چې دا شمس الدین به ، چې د فتح خان په نکل کې دمغولو پاچا بلل سوی دی، د سیستان حکمران وی ، چې ځینو مغول او ځینو صفاری بللی دی. دی وایی دا خبره یو څه اړخ لګوي ځکه چې بست او سیستان سره نیژدې دي او په سیستان کی د شمس الدین په نامه د پاچا موجودیت دا څرګندوي چې فتح خان له هغه سره جنګ کړی وي او داچې په ځینوروایاتو کی شمس الدین مغول بلل سوی دی نود اقول په قوت تاییدوی چې فتح خان به د همدغه شمس الدین سره جنګېدلی وي.(۱)
د مرحوم عطایې صاحب نظر ځکه د تامل وړ دی چې د سیستان حکمران شمس الدین هیڅ وخت خپل قلمرو دهندوستان خواته نه دی غځولی، چې په لاره کی دي یا د بست او یاد هندوستان په خاوره کی د فتح خان سره مخامخ سي. او بل داچې هیڅ تاریخی منبع هغه ته مغول نه دي ویلي. قاضی منهاج سراج یې د نیمروز د هغو قومی مشرانوڅخه بولي چې د سلجوقی شاهانو سره یې روغه کړې او دهغوی اطاعت یې منلی وو.( ۲)
البته منهاج سراج دنورو مورخینو په څېرمورږته وایی چی شمس الدین د خپل پلار ملک تاج الدین ابولفتح د وفات څخه وروسته قدرت ته ورسېدی ، خپل ورو عزالملک یې ړوند کړ او وروسته یې په یوه ورځ خپل اته لس ورونه ووژل. هغه یو ظالم او مستبد سړی وو، اود نیمروز د خلکو په زړونو کی یې د قتلونو او ظلمونوله کبله ویره اوډار اچولی وو.(۳)
خو مرحوم عطایې موږ ته وایی چې دشمس الدین ترمرګ وروسته چې بدرالدین قدرت ونیوی هغه ډېر ظالم وو او بلوڅان یې تېښتي ته مجبور کړل. ( ۴)
په داسې حال کی چی د نیمروز د پاچا شمس الدین له مړینی څخه وروسته قدرت دهغه وررور تاج الدین حرب ته ورسېدی اومورخین وایي چی هغه یو عالم او عادل پاچا وو. نیمروزی شمس الدین په کال ۵۵۹ ه ق کي د خپل پلار تاج الدین ابولفتح د وفات څخه وروسته قدرت ته ورسېدی( ۵)
په داسې حال کی چی مغول چنګیز خان د ٦٢٠ ه ق په شاوخوا کی لا په مرکزی اسیا کی په فتوحاتو لګیا وو او دخوارزم شاهیانو ښارونه یې یو په بل پسې لاندی کول( ٦)
ګواکي په هغه زمانه کی چی شمس الدین په نیمروز کی پاچهي کوي چنګیز خان لا زېږېدلی نه دی او ځکه نو د شمس الدین سره دمغول کلمه بېخی ذکرېدلای نه سوای.
زما په عقیده هغه شمس الدین چې د فتح خان برېښي په نکل کی اشاره ورته سوې ده پرته له شمس الدین کرت څخه بل څوک کېدلای نه سي. شمس الدین کرت ، چی په هرات کی د کرتانو د سلسلې موسس وو،او دچنګېزخان د لمسی هلاکو او دهغه د زوی اباقاخان له خوا یې هرات او شاوخوا سیمې اداره کولې د ٦٥٠ هجری قمری څخه تر ٦٥٥ هجری قمری پوری پر دغه سیمه باندی، چی مغل کوټ پکښی پروت دی او د فتح خان په نکل کی اشاره ورته سوې ده، څلور ځله ډېری لویی لښکر کښی کړي او د افغانانو له ډېر سخت مقاومت سره مخامخ سوی دی. شمس الدین کرت په دغه سیمه کی د افغانانو د ملک شهنشاه، ملک بهرام شاه،، ملک میرانشاه ، شعیب افغان او ملک سندان مقاومتونه یو په بل پسې مات کړل اوهر ځل چی یې دا مقاومتونه مات کړي دي نو ډېر ظالمانه قتل عامونه او چور او تاړاکونه یې کړي دي.
که څه هم چی د دې خبری معنی پخپله دا نه ده چی ملک شمس الدین به حتما د برېښ فتح خان سره جنګېدلی او دا مشهور فوکلوریک نکل به یې ایجاد کړی وي. ځکه کله چې موږ په دغه سیمه کی ،چی په تاریخ نامه هرات کی هر ځل د افغانستان په نوم اشاره ورته سوې ده، هیڅ وخت د فتح خان په نوم پښتانه قهرمان سره نه مخامخ کېږو. بلکه برعکس په نکل کی د داسی افغان مشرانو او پهلوانانو نومونه راځي چی د فتح خان برېښ په نکل کی هغوی ته ورته نومونه نسته. داچی فتح خان به څوک وو موږ ته هیڅ ډول معلومات نسته، خودونه ویلای سو چی په دغه سیمه کی د ملک شمس الدین، چی په هغه وخت کی یې افغان مشران مغول بولي، جنګېدلی او د هغه سره د افغانانو مقاومت د فتح خان برېښی مشهوره فوکلوری افسانه ایجاد کړې ده .
دا چی ولي شمس الدین ته دهندوستان پاچا ویل سوی دی، تر ټولو لوی علت یې دا کېدلای سی چی پښتانه د چنګېزی مغولانو سره چندانی مخامخ سوي نه دي بلکه زیاتره یې دهندی مغولانویا کورګانیانو سره منظم مقاومتونه کړي او د هندی مغولانو په وخت کی یې د شېرشاه او خوشال خان او خان جهان لودي په څېر لوی لوی سپه سالاران د جنګ میدان ته ایستلي اوډغری یې ورسره وهلي دي. نوکله چی د مغول پاچا نوم راځي سمدستي د هندوستان نوم ورسره یادېږی.
ملک شمس الدین کرت په کال ٦٥٣ هجری قمری کی د تیری پر کلا باندی لښکرکښی وکړه . په دې کلا کی د افغانانو مشر ملک المار د ملک شمس الدین استازو ته ویلي وه چی که زما ټول خپلوان او قبایل د ملک شمس الدین خدمت قبول


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

کړي اومالیات ورکړي ، زه چې الماړ یم چې تر څو ژوندی یم دا کار به ونه کړم. څکه چې تر دې د مخه زما نیکونو او پلرونو د مغولو خدمت نه دی کړی اوکافر ته یې مالیه نه ده ورکړې . تر دې دمخه چې دمغولو هر څه لښکري دې سیمی ته راغلي دې ټول مات سوي دي او زړه ماتي ګرځېدلي دي.(۷) حاشیه وګوری
موږ ګورو چې یو خود تیری د سیمی افغانان ملک شمس الدین کرت ته مغول او حتی کافر وایی( څکه چې هغه د کافرانو په خدمت کی دی)او د بلی خوا ګورو چې د جنګ علت هغه مالیات دي چې ملک شمس الدین یې د الماړ څخه غواړی . اوکله چې د فتح خان برېښی نکل ته مراجعه کوو هلته هم وینو چې د برېښو او شمس الدین پاچا ترمنځ د جنګ اصلی علت دا دی چې کرمی ګواریانو ته وایی چې شمس الدین پاچاته مالیات مه ورکوی او کله چې د پاچا عسکر د ګواریانو کلا ته ورځی کرمی یې وژني او یا یې ژبي ورڅخه پرې کوي او بالاخره کرمی د شمس الدین پاچا خپله خزانه را ګرځوی.
دا کاروان د شمس الدين په طلا بار دی

دغه ټول د برېښانو کوکی ښکار دی
شمس الدین پاچا بېله جنګه بله چاره نه وینی او دجنګ میدان ته ور وزی.
دېره په زړه پوری خبره چې موږ یې دملک الماړ اوملک شمس الدین کرت د جنګ په برخه کی وینو هغه دا ده چې د شمس الدین کرت او ملک الماړ ترمنځ دغه جنګ ۵۹ ورځی دوام کوی (۸( او فتح خان برېښی د شمس الدین سره شپېته ورځی جنګونه کوی.
هندوستان می د مچیو ګبینی دی

هر څو چې یې وهم نه تمامېږی د شپېتو برېښو ورځ په ورځ کمی دی.
دلته بیا هم ګورو چې د ملک الماړ او ملک شمس الدین کرت ترمنځ د جنګ موده یوه ورځ کم دوې میاشتی ده، او د فتح خان په نکل کی ، د مغولو او پښتنو یارانو ترمنځ جنګونه څه باندی شپېته ورځی دوام کوی. نو سړی ویلای سی چې دغه به ښایی د ملک الماړ جنګونه وي چې په فوکلوری افسانو کی یې نوم فتح خان سوی دی.
سیف هروي لیکی« ملک اسلام شمس الحق والدین د تیری کلا په جنګ ونیوله او امر یې وکړ چې الماړ پر منځ دوه ځایه کړي. د هغه خدمتګاران او د دربار نیژدې کسان یې پنځوس تنه په سترګو ړانده کړل، د پنځوسو تنو لاسونه او پښې یې ورڅخه پرې کړې، د پنځوسو تنو پزی او غوږونه یې ورڅخه پرې کړل او درې سوه تنه یې په لرګیو ووهل او باقی پاته کسان یې حسام الدین جاول ته وبخښل.(۹)
د دغو تاریخی شواهدو اوقراینوڅخه داسی نتیجه اخیستلای سو چې که دفتح خان برېښ په نکل کی پر شمس الدین پاچا باندی بحث کوو نوباید چې حتما دغه شمس الدین کرت وي. البته د دې معنی بیا هم دا نه ده چې شمس الدین کرت په دغه سیمه کی له فتح خان نومی پښتون سره جنګېدلی او دا فوکلوری افسانه یې منځته راوړې ده بلکه مطلب دا دی چې په فوکلوری افسانوکی نومونه، ځایونه، پېښې او ټول نکلونه تغیر کوي او کله کله حتی دوه درې نکلونه سره ګډ سی او یو نکل منځته راوړی. په دې حساب نو پرنکل استناد کول او په هغه کی راغلي پېښی د تاریخی سند په حیث وړاندی کول چموږ د پېښو په تحلیل کی تېرباسی. نکل موږ ته په ټاکلو تاریخی او اجتماعی شرایطو کی د وضع عمومی څرنګه والی بیانوی او بس.
د فتح خان په نکل کی دکرمي رول:
د فتح خان برېښی په نکل کی دوهم مهم کرکټر کرم خان دی چې په نکل کی کرمی ورته ویل کېږی. د دې خبری اصلی علت ښایی دا وی چې کرمی دمینځی زوی دی. که څه هم چې د ده پلار هم اسلم خان وو او د فتح خان میرې زی ورورګنل کېږی.اوکله چې مینځه د دوډۍ خوړلو څخه مخکی د شپېتو یارانو دپاره د لاسونو مینځلو اوبه راوړی نولومړی د فتح خان، ورپسې، د کرم خان، بیا د پردل خان او ورپسې د نورو یارانو لاسونه مینځی او د دې څخه دا څرګندېږی چې کرم خان د فتح خان څخه وروسته دوهم مقام لری. خوموږ ګورو چې کرم خان د نکل له لومړیو پېښوڅخه بیا تر پایه پوری د ټولو بدمرغوحوادثو او تراژیدیو اصلی مسوول دی او یا دا رول قصدا ورکول سوی دی.
دا کرم خان دی چې فتح خان اونور یاران دې ته هڅوی چې د هغو ځوانو ښځو پر سرونوباندی د اوبو ډک منګی په ډبروولي او ور مات یې کړي او وروسته د هغوی داوبو ژي په غشیوور سوري کړي، چې له د باندی څخه کلي ته اوبه وړي. او هغوی مجبورېږی چې اسلم خان پاچا ته شکایت وکړی، او اسلم خان د خیل ګران او یوازینی زوی سره خوابدی کړي. دا هم دکرمي شیطانت دی چې فتح خان له پلارڅخه مرور کېدلو ته تشویقوی او هغه دښاره دوتلو او نه ستنېدلو فیصله کوی. دا هم کرمی دی چې د عربستان پر لور کره سوې لښته د هندوستان خواته کږوي او سهار پر فتح خان ناره کوی:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سر له سره پلنګه هسک کړه فتح خانه

یو خومی ځانګه د هندوستنان پر لور کړه ده
دا هم کرمی دی چی دوه ځله په ګوارایانو پسی د پاچا راغلي سپاهیان وژني او فتح خان دې ته مجبورېږی چی ښرا ورته وکړي :
کرمیه چی غم نه وي ته غم راوړې

که به زما په دعا کېږی کرمیه پر لم غوټه سپرو واوړي
کرمی لا په دې هم بسیا نه دی او پر دې برسېره د شمس الدین پاچا د خزاني مخه نیسی اوټوله د خزاني سره ملګري کسان وژني اوخزانه خپل کورته وړي. د کرمي دغه کارونه بالاخره شمس الدین پاچا جنګ ته مجبوروي او دجنګ په نتیجه کی ټول شپېته واړه برېخ یاران وژل کېږی:
زموږ مرګ په سپینوتورو

لویه خدایه اسلم خان بابا می ولي نا خبر دی
همدا اوس هم که په کندهار کی چی څوک خپلی کورنی یا ملګرو ته ستونزي پیدا کوي نو دوستان یې، یا مخامخ اویا په غیاب کی ،په ټوکو وایی :
کرمیه چی غم نه وي ته غم راوړې.
داسی ښکاری چی کرم خان په ټولو یارانوکی توریالی ځوان دی. ځکه چی یو ځل د شمس الدین پاچا له دربار څخه فتح خان اوورسره یاران، چی شمس الدین پاچا یې په ناځواني کی لاسونه تړلي دي، دتوری په زور خوشی کوی:
اوس به جوړ کړم دمغولو د سر څلي

چی تړلي یې فتح خان نازک لاسونه
کرم خان وروستنی سړی دی چی د فتح خان تر څنګ جنګېږی او د جنګ په ټول دوران کی د لښکرو له تورو اوغشیو څخه ژوندی پاته کېږی. په زړه پوري خبره دا ده چی فتح خان هغه ته هیڅ وخت د ورور خطاب نه کوی او حتی په هغه ورځ چی کرم خان خپل ځان د فتح خان د بلا سپر کوي اوپه وینو کی لت پت دی او پر مغولو ناره کوی:
که وخوری دا دسترګو کسی وخوری

که ما مړ کی دا زما بادار ژوندی دی
بیا هم پخپله کرم خان فتح خان ته بادار وایی اوفتح خان هم په دغه وخت کی دنوکرخطاب ورته کوي:
آفرین کې پر داهسی نوکر باندی

ځان یې واچاوه د خپل بادار د وړاندی
خو دا خبره د آسیایی مریتوب د ټولو قوانینو مخالفه ده ځکه چی کرمی په هر لحاظ د فتح خان ورور دی او په هیڅ توګه یې نه دوروړۍ له حقه محرومولای سی او نه دنوکر خطاب ورته کولای سی.
خوڅرنګه چی په ټول نکل کی هغه ته دکرمي خطاب کېږی او پخپله د کرمي نوم اولقب د اجتماعي موقف د ټیټ والي معنی لری نو سړی ویلای سی چی کرمی به ،د نکل په خلاف، د فتح خان میرې زی ورور نه بلکه د هغه د پلار په کاله کی زېږېدلی خانه زاد غلام وو، چی خپل ځانته جلا حقوق او اجتماعي حیثیت اومقام لری.
په آسیایی ټولنو، په تېره بیا مرکزی اسیا او هند، کی د غلام د اجتماعي موقف په باب مفصل او هر اړخیز بحث موږ دلته له موضوع څخه لیری کوی خودونه به ووایو چی په آسیایی ټولنوکی معمولا درې ډوله غلامان وه چی یو یې په جنګ کی نیول سوي کسان وه چی یا به په سزا ورسېدل اویا به په مځکو او کسبونو اوکورنیو کی په کارونو ګومارل کېدل.
دوهمه ډله زرخرید غلامان وه ، چی د غلامانو دخرڅلاو په بازارونوکی رانیول کېدل اود بادار په کور یا دربار کی به کارونه ور سپارل کېدل. د دغو غلامانو څخه د عسکری خدمت لپاره ځوانان استخدامېدل او کله چی به چا په جنګونو کی ښه مړانه وکړه نو هغه به د سپه سالاری درجې ته رسېدی، او دغه غلامان وه چی په هند کی یې د سلطنت د نظام په دوران کی کودتاوی کولي او ځینی یې، لکه قطب الدین ایبک، شمس الدین التمش او غیاث الدین بلبن د هند لوی پاچاهان سول. د دې دواړو ډولو غلامانو سره نسبتا سخت سلوک کېدی او تر هغه وخته پوری چی د خپل بادار توجه به یې ور اړوله ډېر ټیټ اجتماعي حیثیت او مقام درلود.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ

دریمه ډله هغه غلامان وه چې میندو او پلرونو به یې د بادار په کلا او مځکوکې خدمتونه کړی اودوی به دبادار په کاله کې زیږېدلي وه . دې ډلی غلامانو ته یې خانه زاد ویل . خانه زاد غلامانو ډېر لوړ موقف درلود. د بادار له اولادونو سره به یې یوشان لباسونه اغوستل. دهغوی سره به یې پر یوه استاد سبقونه ویل اوکله کله خوبه بادار په خپل کاله کې او یا له کاله څخه دباندی واده هم ورته وکړ.
البته د پښتنو په تاریخ اوټولنه کې چندانی د غلامانو او دغلامۍ د کوم سستم څرک نه لیده کېږی اوکه چېری د ښځو اونارینه وو د خرڅلاو موضوع راغلې وي نو هغه هم یوازې په یوه ټاکلې پېښه پورې تړلې وي.
خوشال خټک، چې خپله دستار نامه یې تر ډېره ځایه پوری دخواجه نظام الملک طوسي د سیاست نامې او د کیکاووس بن وشمګیر د قابوس نامې پر سبک لیکلې ده، د هغودواړو متونو په خلاف، د غلام اوله غلام سره د سلوک کولو په برخه کې موږ ته هیڅ نه وایی.
د خوشال خان ، چې د پښتنو د اجتماعی ژوند هری برخې ته یې اشاره کړې ده، په دې باره کې چوپ پاته کېدل پخپله د دې معنی ورکوی چې غلام د پښتنو په ټولنه او ټولنیز ژوندکې چنداني مطرح نه دی.
دغه راز په افغانستان کې د پښتنو په تاریخ کې هم چندانی د غلام له نوم سره نه مخامخ کېږو اویوازې د امیر عبدالرحمن خان ۱۹۰۱- ۱۸۸۰ او حبیب الله خان ۱۹۱۹-۱۹۰۱ په زمانو کې د غلامانو بازار وینو. البته د غلامانو بازار د امیر حبیب الله خان په زمانه کې هم چندانی په زور کې نه وو او دا بدمرغه پدیده یوازې د هزاره ګانو په مقابل کې د امیر عبدالرحمن خان د قهر محصول وه. میرغلام محمد غبار د هزاره غلامانو د خرڅلاو رانیولو یادونه کوی. (۱۰)
په کندهار کې د انګرېزانو خبر لیکونکی هم دې خبری ته اشاره کوی او وایی چې د میانشین له هزاره ګانوڅخه څلوېښت ښځې او ماشومان او بزې او پسونه ونیول سول اوښځې اوماشومان یو یو خرڅېږی.(۱۱)
په دې حساب نو زه دخپل دې بحث څخه دا نتیجه اخلم چې کرمی د فتح خان برېڅې د ټولی افسانې په څېر یوخیالی قهرمان دی چې کله د فتح خان میرېزی وروړ او کله غلام بلل سوی دی. او یا لکه څرنګه چې موږ مخکې وویل دا نکل باید پخوانیو زمانو ته منسوب وي چې هلته د پښتنو کوچنې اداری واحدونه د بېګانه ګاونډیو امپراطوریو تر لاس لاندې وه. دغو کوچنیو اجتماعی او اداری واحدونو د غلام او غلامۍ مفهومونه د ګاونډیو کلتورونو څخه اخیستل او په خپلو فوکلورې افسانو کې یې کارول، او د غلام او غلامی په شان مفهو مونه یې د پښتنو کلتور او فوکلور ته ننه ایستل.
هندوستان:
د فتخ خان برېخ نکل په بست کې پیل کېږی او په هندوستان کې پای ته رسېږی. خوپه زړه پوری خبره دا ده چې په نکل کې هندوستان ته یاغی ملک ویل سوی دی. کله چې د برېڅو د سپین ږیرو جرګه د فتح خان او د هغه د پلار اسلم خان په پخلا کولو کې ناکامه کېږی اوپه پای کې فتح خان ته وایی چې که حتما ځې او له ښاره کوچ کوې نو بیا هندوستان ته ولاړ سی. د فتح خان مور چې د برېڅو دجرګې د دې توصیې څخه خبرېږی نو پرجرګه باندی ناره کوي:
که اور ګډ کې د برېڅو په سپین ږیرو

مرور یې پخلا نه کی لا د لاسه ورښیی یاغی ملکونه
او یا کله چې هغه لښته چې فتح خان د فال په توګه د شپې درولې اووایی چې سهار هر لوری ته کږه سوه پر هغه لور به کوچ کوو او سهار چې لښته کرم خان په لوی لاس د هندوستان پر لور ږه کړې ده پر فتح خان باندی ناره کوی:
سر د سره پلنګه هسک که فتح خانه

یاغی سوی هندوستان رعیت ملکونه
د د ې خبری مفهوم به دا وی چې د فتح خان برېڅې نکل په څو زمانو پورې اړه لری اوکله چې د هندوستان سره دیاغی کلمه یادېږی نو مطلب یې هغه هندوستان دی چې یو وخت د پښتنو پاچاهانو اویا لږترلږه د افغانستان څخه د ورغلو غزنوي اوغوري فاتحینو ترلاس لاندی وو، او اوس،یعنی د فتح خان د نکل د منځته راتللو یا د نکل په قول په بست کې د برېڅو د پاچاهی په زمانه کې، له لاسه وتلی دی. خو سیف هروی هغه سیمه ،چې باید فتح خان د شمس الدین سره پکښی جنګېدلی وي، افغانستان بولي اوکندهار یا تکین اباد د افغانستان څخه د باندی سیمه بولي.( ۱۲)

په دې توګه موږ ګورو چې په فوکلوري نکلونوکی نه یوازې نومونه بدل سوي اوحتی نکلونوته داسی نوی نومونه ور اچول سوي وی چې حتی په اصلی نکل کی ښایی بېخی وجود ونه لری بلکه نکلونه له یوې سیمی څخه بېخی بلی سیمی ته کوچول سوي او حتی د سیمو نومونه بدل سوي او پر ځای باندی یې بېخی نوری سیمی ور اچول سوي وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دغه سیمه، چې سیف هروی یې افغانستان بولي، پخپله پښتنو ښایی هیڅ وخت په دغه نوم نه وی پیژندلي او ښایی هر وخت یې هندوستان ورته ویلی وي.
همدغه سیمه ده چې داتمی هجری پیړۍ مورخ ضیاءالدین برني یې په تاریخ فیروز شاهی کی افغانستان بولي، البته هغه په مشخصه توګه نه وایی چې د ده مطلب د افغانستان څخه کوم ځای دی.(۱۳)

په ظفرنامه کی، چې د تاریخ فیروزشاهی څخه تقریبا دیرش کاله وروسته لیکل سوی کتاب دی، همدغه سیمه د افغانانو وطن بولي، البته د تکین اباد پر ځای کندهار یادوی. (۱۴)

په توزوکات تیموری کی، چې ګوډ تیمور ته منسوب کتاب دی، او مورخین اومحققین د شک په سترګه ورته ګوری، هم دغه سیمه د افغانانو د اوسېدلو وطن معرفی سویدی(۱۵)
پخپله د فتح خان بړېڅ د نکل په جریان کی یا له بست څخه تر هندوستان پوری د فتح خان او د هغه د یارانو د سفر په شپو کی د کندهار نوم نه اخیستل کیږی، خو کله چې په هندوستان کی د فتح خان او شمس الدین پاچا تر منځ جنګونه داسی حد ته رسیږی چې نور نو فتح خان د مغولو له ماتولو اویا لړترلږه د ځان د ژغورلو څخه مایوس کیږی نو وایی:
که پاخه سوه کندهار انار پاخه سوه

اسلم خان باب دې خوری پر موږ ترخه سوه
ګواکي په دغه وخت کی کندهار هم د اسلم خان تر لاس لاندې دي او د نعمتونو او مېوو څخه یې ګټه اخلی، او یا د کندهار اوبست ترمنځ دونه منظم تګ راتګ موجود دی چې د کندهار انار په بست کی خرڅیږی.
د نکل نارې:
د فتح خان بړېڅ د نکل نارې تر ډېره ځایه بې نظمه دي. البته د دې بې نظمی یوعلت خو دا کېدلای سی چې نکل ډېر زیات خوله پرخوله سوی او له ډېرو کسانو څخه اورېدل سوی اوپه دې لړ کی د داسی نکل چیانو خولو ته ورغلی دی چې چندانی یې د نکل د صحیح انتقالولو صلاحیت او لیاقت نه درلود. ځکه نو نارې بې نظمه سوي دي. د بلی خوا چې ورته ګورو د فتح خان د نکل نارې یا زیاتره اوله اودوهمه مصرع دوارې دوولس یا یوولس سېلابه وي اویا یې لومړۍ مصرع دوولس اودوهمه شل یا نولس سېلابه وي.
کله چې د فتح خان مور له ټولو خواوڅخه مایوسه کیږی او داسی څوک نه وینی چې فتح خان د خپل خطرناک او احساساتی تصمیم د عملی کولو څخه راوګرځوی نو پر رابیا باندی ناره کوی:
که بلبلي رابیا ژړی بلبلي

فتح خان ځي د هند ولورته په جلو یې لګوه دوارې منګولي
او کله چې فتح خان د پردل خان مورته وایی چې که پردل ناوکی ده نو زه به یې پرېږدم او دهندوستان په سفر به یې نه بیا یم نو پردل خان له غیرت څخه ناره کوی:
که اوتر کړم نن دا ستا نارې اوتر کړم

د دې لوری به پاته نه سم مګر خدای پر مصری توري برابر کړم
په نکل کی د ډېرو نارو لومړۍ اودوهمه مصرع دوارې دوولس سېلابه دي خوپه زیاترو نارو کی د قافیې مراعات نه کیږی. مثلا کله چې شمس الدین پاچا د فتح خان سره ناځواني کوی او په چم کی یې بندی کوي نو پر خپلو عسکرو باندی ناره کوي:
لاس یې وتړی ځوانانو نوکرانو

فتح خان د پاچاهانو ګناه کار دی
او کله چې هغوی د فتح خان او دهغه د ورسره یارانو لاسونه تړي اویو ګړی وروسته کرم خان ، چې قصدا تر شا پاته سوی دی، ور پسی را رسیږی نو ناره کوي:
اوس به جوړ کړم دمغولو د سر څلي

چې تړلي یې فتخ خان نازک لاسونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

او یا یوه بله ناره چی وایی.
چی پر ډال پټری وهي نیامت یي جنګ دی

را پسي د زرغونو طوطیانوسیل دی
د فتح خان نکل دومره خوږ اوله سوزه ډک دی چی نه یي د اورېدونکو د نارو نیمګړتیاو ته فکر کېږی اونه دنکل منطقی نیمګړتیاو ته متوجه کېږی.
د مثال په ډول د نکل په سر کی موږ ګورو چی فتح خان د خپلو نورو یارانو سره د ښار څخه دباندی وزي اوهلته نجونو ته ازار ورکوی او پر سر باندی یې منګوټی په ډبرو ولي. او بیا وروسته دهغوی د اوبو ژي په غشیو سوري کوی ، او په دغه برخه کی د نجونو دوه ځله شکایت د فتح خان څخه دخپل پلار اسلم خان دخوابدی سبب کېږی. په داسی حال کی چی کله د چا دونه ببر ببر برېتونه وی چی دسرو زرو شپېلی په اغوندي نو هغه بیا د نجونو پر سر داوبو منګي په ډبرونه ولي ځکه چی دا د ډېرو وړوماشومانو کار دی. اویا مثلا په یوه کوچنی خبره اود پلار په عادي مرور تیا،هغه هم په داسی حال کی چی پلار سړي ته پخپله زاری کوي او بخښنه ورڅخه غواړي:
په یوه لاس کی می جام په بل کلام دی
اسلم خان خومی پر تېرویل پښېمان دی
څوک بشپړه پاچاهي او ملک نه پرېږدی. او یا مثلا شپېته برېښ ، هغه هم په یوه بېګانه وطن کی ، د بشپړی پاچهی په جنګ نه ور وزي اوکه ور ووزی نو بیا شپېته ورځی مقاومت نه سی کولای.
تر ټولو شیرینه لا دا ده چی ملنګ د اسلم خان مینځي ته شپېته داني مني ور دم کړي او د اسلم خان مېرمن یوه پخپله وخوري او نوري د خانانو او مشرانو پر مېرمنو ووېشي اوټولی په یوه شپه حاملي سي، او د پردل خان مور چی مخکی لا حامله وه د مني له خوړلو سره بیا حامله کېږی او یوه لور او یو زوی زېږوی. دا لا هم نه ده معلومه چی د پردل خان مور د مني د خوړلو څخه څونه مخکی حامله وه چی پردل خان او رابیا یي دواړه په یوه شپه وزېږول. خو نکل دونه خوږ روان دی چی اورېدونکي دې نا ممکنی خبري ته هیڅ نه متوجه کېږی چی یوه ښځه حامله وي دوهم ځل څرنګه حامله کېدلای سی.
د نکل په پای کی رابیا، د ملی هینداري د نکلونو د اکثرو ښځو، شیرینو، بیبو، ګل بشرۍ، نازو او درخانی په خلاف ، چی دمین پر قبر ساه ورکوی، په فتح خان پسی نه مري، بلکه د یوې غښتلي پښتني مېرمني په حیث خپل ټول مړي قبر ته سپاري اودمغول شمس الدین څخه مځکی اخلی او بیله دې چی بیرته وطن ته د ستنېدلو خیال ولری هلته پاتېږی.
کله چی نکل ښه سره وشنو نوموړته څرګندېږی چی د فتح خان نکل د پښتنو د رنګینو تراژیکو حماسو یوه فوکلوری افسانه ده چی د ځینو ترخو تاریخی حقایقو ښکارندویه او پر هندوستان باندی د دوی د حکومت کولو ارمان او ارزو له ورایه پکښی څرګندېږی. ځکه نکل موږ ته وایی چی شپېته برېښ د بشپړ لښکر سره څه باندی دوې میاشتی جنګېږی نوکه پښتانه په لښکر ور ووزی په دې کی شک نسته چی بری حتما د پښتنو دی.

۱- ملی هینداره د اجتماعی څېړنوله نظره ص ۳۸-۳۹
۲ – طبقات ناصری جلد اول ص ۲۷۷
۳-هغه کتاب ص ۲۷۷
۴- ملی هینداره د اجتماعی څېړنو له نظره
۵- راورټي طبقات ناصری انګلیسی ص ۱۸۹
٦- طبقات ناصری جلد اول ص ۱۰۷
۷- تاریخنامه هرات ص ۲۰۵
۸- هغه کتاب ص ۲۰۷
۹- هغه کتاب هغه مخ
۱۰-افغانستان درمسیر تاریخ ص٦۷۰
۱۱- نیوز لیترز دوهم جلد ص ۱۲۷
۱۲-تاریخ نامه هرات ص ۲۰۷
۱۳- ایلیټ ، د ضیاءالدین برني د تاریخ فیروزشاهي انګلیسی خلاصه ترجمي کی لولو چی په داسی حال کی چی سلطان فیروز شاه تغلق کوښښ کاوه چی کښت او کرونده عادی حالت ته را وګرځوی ، خبر ورته ورسېدی چی شاهو افغان په ملتان کی یاغی سوی او نایب الحکومه بهزاد یي وژلی دی. ملک نوا له ملتان څخه ډهلی ته تښتېدلی دی. شاهو پر ځان باندی افغانان را ټول کړي او د ملتان د ښار کنټرول یې اخیستی دی. سلطان خپلی قواوی تنظیم کړې او د ملتان پرلور رهی سو... د متلن څخه صرف یو څو منزله لیری وو چی شاهو تسلیم سو او دخپلوګناهونو د بخښل کېدلو خواست یي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځير و لولئ

وکړ. دی له خپلو افغانانو سره افغانستان ته وتښتېدی او سلکان د سانام خواته رهي سو. ایلیټ ډاسن دریم جلد ص ص ۲۴۴_ ۲۴۵

البته ضیاءالدین برني موږ ته نه وایی چی شاهو افغان چېرې وتښتېدی او د ده مطلب له افغانستان څخه کومی سیمی دي. ځکه چی په تاریخ نامه هرات کی د کندهار او ملتان ترمنځ سیمی د افغانستان په نوم یادېږی او دا هغه سیمی دي چی د فتح خان برېښ په نکل کی یې هندوستان اود شمس الدین پاچا ټاټوبی بولي.
۱۴- نه ماتېدونکي او د نړی فاتح تیمور شهزاده پیر محمد جهانګیر ته دکندوز ، بغلان، کابل، غزني او کندهار ولایتونه د خپلوتولو ملحقاتو سره د هند تر سرحد پوري ورکړي وه. شهزاده پر دغه سیمه باندی په عدالت حکومت کاوه او د امپراطور له امر سره سم یې د خپلو ولایتونو څخه لښکري جمع کړي، څو نور هیوادونه هم ونیسی. ده د کوه سلیمان افغانان لوټ کړل او داندوس تر سیند تېر سو او د اوچ سیمه یې په زور لاندي کړه. له هغه ځایه څخه یې پر ملتان باندی حمله وکړه او هغه یې محاصره کړ. ملتان په هغه وخت کی د ملو خان د مشر ورور سارنګ خان تر اداري لاندي وو. هغه کتاب ص ص ۴۸۰-۴۷۹
دلته موږ ګورو چی افغانان د کوه سلیمان په سیمه کی، چی اوس یې هم ټاټوبی دی، اوسېږی او تقریبا دغه سیمه او شاوخوا علاقي دی چی په تاریخ فیروز شاهي کی ښایی دافغانستان په نوم بلل سوي وي او د تاریخنامه هرات متن هم موږ ته دغه سیمی د افغانستان په نوم معرفی کوی خو د فتح خان په نکل کی دغه علاقي دی چی هندوستان ورته ویل کېږی.
۱۵- او د اوغانیانو څخه می د هندوستان د لاري د پاکولو په برخه کی داسی سلا وکړه چی کله ماته عرض وړاندی سو چی ځینی اوغانیان د هندوستان په لار کی ستونزي پیښوي او لاري وهي ، خصوصا موسی اوغان، چی د کرکس د قبیلي ملک دی، او پر لشکر شاه او غان یې ، چی زما له نوکرانو څخه وو، او پیر محمد د ایراب د قلا ساتنه ورسپارلي وه، حمله کړې اووژلی دی او هغه ټوله شته مني یې لوټ کړي وه. په دغه وخت کی د لشکر شاه ورور ملک محمد ماته په فریاد راغی او د خپل ورور د وژل کېدلو او د موسی د ظلم او تېري په باب یې کیسه راته وکړه... موسی پخپله سزا ورسېدی او د هندوستان لاره خلاصه سوه. توزوکات تیموري ص ص ۱۳۶-۱۳۴
موږ ګورو چی افغانان تر ملتان پوری پراته دي او هندوستان ته د تېرېدلو لاره یې بنده کړې ده. په دې حساب نو باید هندوستان د ملتان څخه د ختیځ لوری ته پروت وي. خو د فتح خان برېښ په نکل کی موږ وینو چی د برېښو یاران د کندهار څخه فقط د وو دریو شپو په مزل هندوستان ته رسېږی او هلته د ګواریانو په قلاو کی په زور اړوی. دا هغه سیمه ده چی په تاریخ فیروزشاهي او تاریخنامه هرات کی افغانستان او د فتح خان په نکل کی هندوستان بلل سوی دی.


ماخذونه
۱- عطایی، محمد ابراهیم. ملی هنداره د اجتماعی څېړنوله نظره.
۲- هروي، سیف بن محمد. تاریخنامه هرات. چاپ دوم سال ۱۳۵۲
۳- تزوکات تیموري. تهران سال ۱۳۴۲
۴- منهاج سراج قاضی . طبقات ناصری . مقدمه و تحشی عبدالحی حبیبی. چاپ کابل
Eliot. The History of India 3rd Vol-۵
Kandahar News Letters. Second Edition 1990 -٦
(-Raverty, H G.Tabakati Nasiri ٧


نور بیا
**د فتح خان او د هغهٔ د ملګرو د شوخي او ټوکو داستانونه...**

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو**!** تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک او د څلورم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولئ